محمد انور ولید ۲۰۱۱/۱۰/۱۸

# سمین بارکزی روغتون ته، او د دیموکراسۍ
## او د بیان د آزادۍ جنازه خاورو ته ولاړه

د افغانستان د پارلماني ټاکنو ناندرۍ له پېله را نیولې بیا تر نن پورې د چاپي، غږیزو او تصویري رسنیو د سر ټکي جوړ شوي. خو په ګردیو میزونو کې دا موضوع دومره توده شوې چې د هیواد نورې ور پېښې ستونځې پرې د خلکو له پامه ایستل شوې ـ داسې هڅې روانې دي چې د دولت پام له نورو غټو ملي مصالحو نه بلې خواته پرې واړوي، او ټولنیز ملي اهداف د شخصي زدو بندونو قرباني کړي. دغه کړۍ غواړي چې دولت له کلیاتو را وباسي ـ او جزئیاتو ته یې ور ټیل وهي. په داسې حال کې چې دولت د خپل ملت یو داسې اجرأیوي ویاند ـ وصي او مسؤله مرجع ده چې د کورنیو او بهرنیو ستونځو د حل او نیمګړتیا وو په اړه یې ذمه واري پرغاړه ده. خو د دولت مخالفي کړۍ دولت ته په خپل اجرأیوي ـ سیاسي ـ مدني ـ حقوقًي ـ پو ځي ـ تعلیمي ـ اقتصادي ـ کلتوري او نورو اړوندو بر خو کې خنډونه اچوي تر څو دغه ذمه واره مسؤله مرجع (دولت) تر وخت مخکې له ناکامۍ سره مخ ـ او خپله ماتې جبراً ور باندې تحمیل، ځانته د قدرت خلا را منځته ـ او په آسانۍ سره واک ترې تر لاسه کړي. د مخه د پارلمان په اړه دا نارې سورې د ننه په خاموش اکثریت کې وې چې د پارلمان ډېرۍ غږي ناقانونه او په درغلیو ککړ د کابل له کوڅو نه د خپلو ولایتونو په غلط استازیتوب پارلمان ته ورغلي. خوهلته هم له یوې خوا خلک او نړیواله ټولنه وهڅول شول چې پر ؤلسمشر باندې زور راوړي ـ تر څو دغه له ټاکنیزو درغلیو ډک پارلمان پرانیزي. خو بل لور ته ناکامو وکیلانو او نورو خواوو پر ؤلسمشر له بلې خوا زور را وړ چې دا پارلمان لغوه اعلان کړي، تر څو مخالفینو ته موقع په لاس ورشي چې ووایي ؤلسمشر د اساسي قانون خلاف عملونه تر سره کوي. خو چې د ټاکنو پایلو ته وکتل شول، په غزني کې یواځې په یوه ؤلسوالۍ کې د ټول ولایت پر خلاف انتخابات تر سره شوي وو، او وکیلان هم ټول له همغې ؤلسوالۍ نه په درغلیو را غلي وو. په نورو ولایتونو کې داسې چمونه تر سره شوي وو چې د پښتون میشتو سیمو د رأیو صندوقونه په لارو ـ اوبو او غرونو رغونو او دښتو کې غور ځول شوي وو ـ تر څو پښتانه په پارلمان کې کمرنګه او بې اهمیته کړي، او بل لور ته پر پښتنو سیمو جنګ روان ؤ، تر څو پښتانه په انتخاباتو کې برخه وانه خلي، ولې بل لور ته د دولت په پښتون ضد سیمو کې د رأیو ور کولو دومره آزادي روانه وه چې د غیر قانوني سن نجونو او هلکانو هم څو څو ځلې څه چې په لس ځلې خپلې رأیې خپل مطلوب کاندید ته د بې کیفیته رنګ له امله ور کړې دې، خو د پښتنو په کومو سیموکې چې انتخابات تر سره شوي وو ـ هغوی یې اکثره بې نتیجې اعلان کړل. په انتخاباتو کې د پښتو ـ فارسي او مذهب تر منځ بې خرته سیالي روانه وه او ده. د نا امنیو په پلمه هر چا د کابل په کوڅو کې ځانونه کاندید کړي وو ـ او داسې کسانو پارلمان ته لاره په کې وموندله چې له سره یې هویت نه ؤ مالوم. خو چې په دې کې هم حکومت ضد عناصر پاتې را غلل، نو بیا مخالفینو د ناکامو او بریالیو کاندیدانو سر یال ته ادامه ور کړه، هغوی یې په دواړو خواوو کې هڅول او لمسول چې یو د بل په وړاندې را پورته شي، او خپل حقوق له حکومته وغواړي. خو کله چې ؤلسمشر قانون ته مخه کړه، ځانګړې محکمه یې د پاکو او ناپاکو وکیلانو د مالومولو او سره بیلولو له پاره جوړه کړه ـ نو بیا په درغلیو ککړو وکیلانو چیغې پورته کړې، او ووېرېدل چې نه ویل کیږي زموږ درغلۍ په کې په ډاګه نه کړي. څه وخت چې ځانګړې محکمې خپل کار پای ته ورساوه ـ اوپه در غلیو د ککړو (۶۲) وکیلانو پایلې یې اعلان کړې ـ نو ؤلسمشر بیا له سمتي ـ ژبني ـ ګوندي او مذهبي زور آزموینو سره مخ شو، چې بالآ خره د ملګرو ملتونو استازی، د امریکې سفیر او نور خلک د ؤلسمشر ـ مخالفینو او پارلمان تر منځ د جوړکړې لانجمن سریال د پای ته رسیدو له پاره منځګړتوب ته را وړاندې ـ او د (۶۲) کسانو له ډلې یې (۹) تنه وتلي بدنام کسان را وایستل، چې په هغو کې یوه هم (سمین بارکزۍ) وه. پلاوي د هغې رأیې له سره وشمرلې، خو آغلې بارکزۍ له بلې ناکامې وکیلې نه هم ډېرې کمې رأیې وړې وې ـ فضل احمد معنوي خپله دا پایلې اعلان کړې. پلاوې یې د رأیو له سره شمرلو له پاره وټاکل شو، اسدالله سعادتي او ځینې نور کسان چې سمین بارکزۍ یې اعتصاب ته هڅوله او د رأیو شمیرلو په پلاوي کې وو ـ د رأیو شمیرلو ته ځکه را نه غلل چې دوی ته خپله درغلي مالومه وه. او سمین بارکزۍ یې د خپلې هوا او هوس د غوښتنو پر اساس د نه خوړو هغې ځان وژنې ته و هڅوله چې د اسلام مبارک دین په درېیو آیتونو او د بخاري شریف د صحیح صحه حدیث هغه ناروا او مردود بللې، سمین سیاسي بیلتونپالو اړخونو دې کار ته هڅولې وه ترڅو د خپل اعتصاب په دې بهیر کې خپل ژوند له لاسه ور کړي، او دوی ددې له دغه ناروا مړینې نه سیاسي ګټه پورته کړي. نو ځان وژنه خو په اسلام کې د بل تر وژلو هم سخته ناروا ده، که په خپله چا ځان وواژه ـ په ورځ د آخرت به همغسې تعذیـبیږي ـ لکه څنګه یې چې په دنیا کې ځان وژلی دئ، خود پیغمبر (ص) دا حدیث د هغه چا له پاره دئ چې پر اسلام عقیده ولري. اوس که څوک له کومې


افغان جرمن آنلاین تاسو په درنـښت همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ستونځې سره مخ کيږي ـ نو بيا دې هره ښځه را ولاړېږي ـ په لار کې دې ځملي ـ او پر غذايي اعتصاب دې لاس پورې کوي او ځان دې وژني، سمين بارکزی په خپل دغه عمل تر سره کولو سره ددوو ګناهونو مرتکبه کيدله؛ يو د ځان وژنې ـ او بل د خپلو اولادونو د محروميت. حکومت د اسلام له مخې هغه د ځان وژنې له دې عمل نه وژغورله ـ خيمه يې ور ؤنګه کړه، کرايي کړې اعتصاب کوونکي هم پر خپله مخه ولاړل، او د بيلتون غوښتونکو دا ارمان نيمګړی پاتې شو.

ځکه لطيف پدرام دوې شپې مخکې (درى) ځلې د انګليستان سفارت ته ور غلی ـ او د سمين بارکزی د سريال زور اخيستو په اړه يې ترې سلا مشورې غوښتې. خو دميزان په (۲۳تم ) مابښام په در غليو ورغلي وکيلان سره را ټول ـ او د يو تش تابوت پرخوا وشا يې ليکلي وو چې: ((ظالم حکومت ديمو کراسي او د بيان آزادي ښخه کړه؛ او د دوی په آند د عدالت ـ ديمو کراسۍ او د بيا ن د آزادۍ جنازه يې وکړه.)) چې دا يې لا بل کفري عمل چې تر سره يې کړ. او تيره ورځ هغو محصلينو هم په مظاهرو لاس پورې کړ چې د سمين بارکزیپه ملاتړ د اعتصاب له پاره خولې پلستر کړې وې.

زما په آند د سمين بارکزۍ دا عمل د هغه ځان وژنو لړۍ ده چې څه موده وړاندې په هرات او نورو سيمو کې ښځې ځان سوځولو ته هڅول کيدې، خو آخر هغه يوه بهرنۍ پروژه وه، چې بيا وروسته افشا شوه. زما مشوره نوموړې ته دا ده چې خپل ځان په خپله ونه وژني. اوس خو په درغليو ککړ پيژندل شوي (۸) وکيلان په خپله مخه ولاړل، (۵۳) نور يې له نامالوم حالت سره مخ شول، په پارلمان کې د ننه د تغيير او اميد د ايتلاف د مشرانو په ملاتړ او لارښوونه د (له قاون نه د حمايت او ملاتړ ) تر نامه لاندې د حاجي ظاهر په مشرۍ يو ايتلاف جوړ شو. هغوی څه موده پارلمان پرېښود. د کرزي او د هغه د حکومت پر ضد يې خپل شعارونه ور کړل، آخر پايله يې دا را ووتله چې د حاجي قدير زوی حاجي ظاهر به رسنيو ته ويل چې زما د پلار قاتل کرزی دئ، ځکه چې دده په حکومت کې زما پلار ووژل شو. خو دا يې نه دي ويلي چې هغه وخت د کرزي د امنيت او استخباراتو اداره د چا په لاس کې وه؟ د کرزي ـ او که د بل چا؟ او تره يې قو ماندان عبدالحق چا مړ کړ؟ له تقريباً څه د پاسه يوې اوونۍ را په ايسته سمين بارکزی د نه خوړو اعتصاب پيل کړی ؤ، ور سره اړوندو خواخوږو کړيو دا خبره په مطبوعاتي کچه زمزمه کوله چې ؤلسمشر دې سمين بارکزی بيرته پارلمان ته دا خله کړي، مدني ټولنې هم ويل چې د سمين بارکزی فزيکي حالت د اندېښنې وړ دئ، خپله سمين بارکزۍ وړمه شپه په يوه تلوېزيوني مرکه کې په خپله شفاهي وصيتنامه کې وويل چې((که زه مړه شوم ـ زما قاتل جناب رئيس جمهور حامد کرزی ـ د هغه لومړی مرستيال مارشال محمد قسيم فهيم ـ د ؤلسي جرګې رئيس او د انتخاباتو د کميسيون رئيس فضل احمد معنوي دئ. سمين بارکزۍ.)) خو ددې تر څنګ دا هم ويل کيږي چې سمين بارکزی په صحت عامه کې له کوم ډاکټر سره دا خبره جوړه کړې وه چې ددې د ژوندي پاتې کيدو له پاره دې غذايي سيروم ور کوي. اوس چې سمين بارکزۍ له ځان وژنې منع شوې، او روغتون ته وړل شوې. ولې په دې اړه زما خپل نظر او مشوره ؤلسمشر حامد کرزي ته داده چې که چيرې ؤلسمشر سمين بارکزۍ ته د بشري خواخوږۍ له مخې پارلمان ته د تلو اجازه ور کړي ـ نو دا به د نورو وکيلانو له پاره هم پارلمان او بل هر څه ته د تلو يوه لاره جوړه شي، ملي مصالح او قانون به په کې تر پښو لاندې شي. پر ټولنيزو برخو به مو وګړو ته حق ور کړی وي، او د نورو خلکو حقوق به په کې تر پښو لاندې شي. ځکه د سمين بارکزۍ ستونځه په بشري ځانګړو حقوقو پورې اړه لري، او په دې کې به يواځې د بشري حقونو او مدني ټولنو د استازو غوښتنې عملي شي، خو بل لور ته د افغانستان اساسي قانون او د نورو وکيلانو حقوق په دې کار سره تر پښو لاندې کيږي، په داسې حال کې چې په دې مسأله کې ناکام ـ او په درغليو ککړ ټول وکيلان او سياسي مداريان شامل دي، که د سمين بارکزۍ برخليک د ؤلسمشر په خوله پارلمان ته د بيرته ورتلو پر خوا وټاکل شي ـ نو بيا له پارلمان نه پاتې (۸) تنه نور وتلي کانديدان هم ښايي په ورته عمل لاس پورې کړي. او په پارلمان کې به له دېنه هم لويه لانجه ؤلسمشر په خپل لاس ځانته جوړه کړي. لطيف پدرام ـ ډاکټر عبدالله ـ امرالله صالح او نورو ته به ددې فرصت برابر کړي چې له دې حربې نه په استفادې سره د دولت پارلماني پښه فلج کړي. او حکومت له غټ سياسي بحران سره مخ کړي. ځکه همدا تيره شپه يې وويل چې موږ به دا حکومت ددوی په خوله را پرځوو. زما په آند ښه به داوي چې ؤلسمر دوې لارې په دې اړه په بيړه پرته له وخت تيرولو پر مخ يوسي:

لومړی : ؤلسمشر دې د پارلمان د هغه پاتې (۵۳) تنو په در غليو ککړو وکيلانو رأيې هم د يوه ټاکلي پلاوي په مخ کې وشميري ـ او بيا يې دې له پارلمان نه وشړي، او پر ځای يې دې هغه وکيلان پارلمان ته را ولي چې په حق کې يې ظلم شوی. ترڅو کرزی له دې تورجنجال نه ځان خلاص کړي. ځکه په يوه لاس کې دوې هندوانې نه نيول کيږي.

دوهم: کرزی دې د مدني ټولنو هغه استازي ور وغواړي، چې پر اساسي قانون ـ نړيوال بشري قانون. اسلام او افغاني دوديزه ټولنه کې ژورې مطالعې ولري. او له هغوی نه دې داسې دلايل وغواړي چې په دې اړه د افغانستان اساسي قانون ـ اسلام او افغاني ټولنې ته صدمه ونه رسيږي، او جنجال په سوله ييزه توګه پای ته ورسيږي. تر څو وروسته بيا د بشري حقونو مدافعين نړيوال غبرګونونه ترې را بر سيره نه کړي.

پای


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ